هیواد

ورځپانه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا

د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز

پنجشنبه د محرم الحرام ۱۴ مه ۱۴۴۷ق کال، د چنګاښ ۱۹ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۱۰ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۸۷ یمه ، پرله پسې ګڼه ۷۵۰ مه، اتمه دوره

اسلامي امارت د راستنېدونکو کډوالو د ستونزو حل او خدمتونو وړاندې کولو ته ژمن دی

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر د پکتیا د روحاني بابا ولسوالۍ له یو شمېر قومي مشرانو او مخورو سره لیدنه وکړه. په دې لیدنه کې قومي مشرانو له پاکستان څخه د راستنېدونکو افغان کډوالو د اوسني وضعیت او مېشتېدو په اړه خپل معلومات له ښاغلي وزیر سره شریک کړل. دوی څرګنده کړه، چې راستانه شوي کډوال د لنډ مهالې سرپناه لـه جدي اړتیا سره مخ دي او غوښتنه یې وکړه چې په یاده ولسوالۍ کې دې د دوی لپاره یو ښارګوټی جوړ شي. دغه‌راز یادو مشرانو د خپلو وړاندیزونو پر دوام، کډوالو ته د روغتیايي مرکز د جوړولو غوښتنه هم وکړه. مولوي عبدالکبیر دغو مشرانو ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل، چې د اسلامي امارت اداري د کډوالو عالي کمېسیون په مشرۍ د راستنېدونکو ... ۷مخ

په اقتصادي وده کې د صنعت سکتور او اسلامي امارت د همغږۍ غونډه

د اسلامي امارت د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس ډاکټر ملا عبدالواسع پرون له غرمې مخکې په سلامخانه ماڼۍ کې په اقتصادي وده کې د صنعت سکتور او اسلامي امارت د همغږۍ غونډه کې، ګډون او وینا وکړه. په پیل کې د سیاسي او ولسي چارو رئیس شیخ محمود ذاکري د غونډې ګډونوالو ته د ښه راغلاست او په اسلام کې د صنعت د ارزښت په اړه د خبرو پرمهال صنعتکارانو ته وویل: تاسو د ټولنې هغه قشر یاست چې د هېوادوالو هیلې درپورې تړلې.ستاسو له برکته په هېواد کې صنعت وده کړې او اسلامي امارت ... ۷مخ

د بهرنیو چارو وزارت: د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه یو مهم پرمختګ دی

د بهرنیو چارو وزارت د ستراتېژیکو مطالعاتو مرکز د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه او د بهرني سیاست په برخه کې د دغه مهم پرمختګ پر مخینه، عواملو او راتلونکو فرصتونو په یوه علمي غونډه کې تفصیلي بحثونه کړي دي.په دې غونډه کې د بهرنیو چارو وزارت درېیم سیاسي رئیس دوکتور عبدالحي قانت د کلیدي وینـاوال په توګه خبرې وکړې او د اسلامي امارت او روسیې په اړیکو کې یې دغه پرمختګ خورا مهم بللی دی.د هغه په وینا، که څه هم اسلامي امارت د خپل متوازن بهرني سیاست په رڼا کې له ګڼ شمېر هېوادونو سره مثبتې اړیکې او تعامل لـري، خو دغه پرمختګ به نه یوازې له روسیې سره په دوه اړخیزو اړیکو کې، بلکې له نـورو هېوادونو سره به

د اړیکو او تعامل په برخه کې هم ګـڼ فرصتونـه راوټوکوي. ښاغلي قانت د روسیې له لوري د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې پر مخینه او د دغه هېواد پر مثبتو تدریجي اقداماتو بحث کړی او ویلي یې دي، روسیې د اسلامي امارت له راتګه وروسته بیلابېلې اندېښنې لرلې، چې پـه تېرو څلورو کلونو کې یې اندېښنې ورو ورو رفع شوې ... ۷مخ

چین، روسیه او ازبیکستان په افغانستان کې د بنسټیزو جوړښتونو پراختیا غواړي

پـه ملګرو ملتونو کې د سیمې د هېوادونو استازو دبنسټیزو پـروژو او اقتصادي همکاریو پر اهمیت په ټینګار سره، له افغانانو د ملاتړ لپاره عملي او غیرسیاسي چلند غوره کـړی دی. د ملګرو ملتونـو په عمومـي غونډه کې د چین استازي د امریکا له لوري د افغانستان د ۷ میلیاردو ډالرو شتمنۍ پر کنګل کولـو نیوکه وکـړه او افغان ولس ته یې د دغو پیسو د بېرته ورکولو غوښتنه وکړه. ګنګ شوانګ ټینګار وکړ، چې په افغانستان کې لوېدیځې تګلارې ناکامې شوي او پر ځای یې باید پر اقتصادي پرمختګ او سیمه‌ییزو همکاریو تمرکز وشي. په ملګرو ملتونو کې ... ۷مخ

د کارموندنې لپاره د ۲۰۰۰ راستنېدونکو د نومونو لېست شریک شوی

د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو د مرستیال مولوي محمد زاهد احمدزي په مشرۍ، د راستنېدونکو کډوالو لپاره د کاري فرصتونو د برابرولو کمېټې نوبتي ناسته وشوه، چې په کـې د اړوندو وزارتونو استازو ګډون کړی و.
د کار او ټولنیزو چارو وزارت وایـي، چې پـه دې ناسته کـې د نـږدې دوه زره بېرته راستنېدونکو کسانو نوملړ او ځانګړني له امارتي ادارو سره د کارموندنـې په موخه شریکې شوې.ناسته کـې د کډوالو او

بېرته راستنېدونکو، صنعت او سوداګرۍ، اقتصاد، کرنې، اوبو لګولـو او مالـدارۍ وزارتونو استازو ګډون درلود او ټینګار وشـو، چې د راستنېدونکو د معلوماتو استول بـه دوام پیدا کـړي او همداراز بـه د امارتي ادارو او خصوصي سکتور له همکارۍ هم کار اخیستل کېږي.د مسؤلیتونو ... ۷مخ

د تېرې اداري ۱۷ لوړ پوړو چارواکو ته د مصونیت کارتونه ورکړ شول

لـه افغان شخصیتونو سره د اړیکو او د هغوی د بېرته راستنولو کمېسیون په نوښت، د شیخ شهاب‌الدین دلاور په مشرۍ غونډه جوړه شوه، چې پکې د تېرې اداري ۱۷ تنو لوړ پوړو چارواکو ته د مصونیت کارتونه ورکړ شول.
ښاغلي دلاور، راستنو شویو شخصیتونو ته د ښه راغلاست ترڅنګ د ورورولۍ، سولې او یووالي پیغام ورکړ او ټینګار یې وکړ، چې اسلامي امارت د هـر هغه افغان هرکلی کوي، چې غواړي د هېواد په ابادۍ کې برخه واخلي ... ۷مخ

افغان پلاوی د وسپنې پټلۍ نړیواله غونډه کې د ګډون په موخه چین ته تللی

د ټولګټو چارو وزارت د وسپنیزې کرښې مرستیال مولوي محمد اسحاق صاحبزاده او ورسره مل پلاوی د وسپنې پټلۍ د نړیوالې برخو کې تـرسره شي چې د ګنو هېوادو تـر ۳ زره چارواکي او استازي به په کې ګډون وکړي. یاده کنګره کې به د وسپنې پټلۍ



اتحادیې (UIC) ۱۲مه کنګره کې د ګډون په موخـه چین ته تللی. د ټولګټـو چـارو وزارت د خبر لـه مخې دغه غونډه به سـږ کال د چین پـه کوربتوب پـه دربوو ماهرین، کارپوهان، څېړونکي، د وسپنې پټلۍ د مخکښو شرکتونو مشران او استازي په نړیواله کچه د وسپنې پټلۍ د صنعت پر ودې، د رېل پټلۍ ... ۷مخ

سمنګانو کې یو کانال جوړېږي

د سمنګانو د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مسئولین وایـي، چې د دغـه ولایت په خُلم ولسوالۍ کې د څه باندې ۲۰۰ زره ډالرو په لګښت د یوه کانال د جوړولو چارې پیل شوې دي.
د یـاد ریاست د ډېزاین او لګښت انجنیر عبدالمنیر امیري باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دغه کانال د پاتریپ بنسټ په مالي ملاتـړ د ۲۹۱ زره ۸۰۰ ډالرو په لګښت جوړېږي.
د نوموړي پـه وینا، دغه کانال ۱.۹ کیلومـتره اوږدوالی لري، چې په جوړېدو سره به یې ۲۱۵ هکتاره ځمکـې خړوبې شي.
ورته مهال د سیمې اوسېدونکي د یـادې پروژې پـه پلي کېدو خوښ دي او له دولت څخه د ورته نورو ټولګټو پروژو د پلي کولو غوښتنه کوي.

لوګر؛ څرخ ولسوالۍ کې د کاشان سربند جوړېږي

د لوګـر ولایـت پـه څرخ ولسوالۍ کې د ۱۴۰ زره ډالرو په لګښـت د کاشان سربند د جوړولو چارې پیل شوې دي.
د یاد ولایت د اوبو او انرژۍ رئیس مـلا محمد اسماعیل اخـندزاده باخـتر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د کاشان سربند د دغـه ولایت په بني غجرک سیمه کـې د «اف. ای.او» موسسې په مالي ملاتړ د ۱۴۰ زره امریکایي ډالرو په لګښت جوړېږي.د نوموړي په وینا، دغـه سربند ۱۴ متره اوږدوالـی او دوه کانالونـه لري، چې په کې به د سـیمې ۲۰۰ کسـانو تـه د کار زمینه برابره او چارې به یې د شپږو میاشتو په موده کې بشپړې شي. ورتـه مهـال د سـیمې اوسـېدونکي وایي، چې د یاد سربند په جوړېـدو سره به د سیمې زرګونه جریبه ځمکه په منظـم ډول خړوبه شي او هم به زرګونـه کورنۍ ترې ګټه پورته کړي.

۲مخ

بېرته راستنېدونکو افغانانو ته د اسلامي امارت له خوا د اسانتیاوو برابرول!

له افغان مهاجرینو سره د ایراني او پاکستاني چارواکو بد چلند د باور فضا زیانمنوي

۲مخ

تاجکستان کې مېشتو افغان کډوالو ته د وتلو لپاره ۱۵ ورځې وخت ورکړ شوی

تاجکستان په دغه هېواد کې مېشتو افغان کډوالو ته د وتلو لپاره ۱۵ ورځې وخت ورکړی دی، دې اقدام د استوګنې د قانوني اسنادو د لرونکو په ګـډون د زرګونو افغان کډوالو په منځ کې پراخه اندېښنه راپارولې ده. دا پرېکړه له ګاونډیو هېوادونو لکه ایران او پاکستان څخه د افغان کډوالو د دلهییز اېستلو له څپې

وروسته کېږي، چې په وروستیو میاشتو کې یې هره ورځ په زرګونو خلک اېستلي دي.د راپورونو له مخې، له تېرې اوونۍ راهیسې، تاجک چارواکو د وحدت مېشتې سیمې په څېر سیمو کې د کډوالو نیول زيات کړي دي، چېرې چې ډېر کډوال ژوند کوي او همدارنګه د دوشنبه په رودکي ... ۷مخ

سمنګانو کې ۱۱ پراختیایي پروژې عملي کېږي

د سمنګانو د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت په حضرت سلطان ولسوالۍ کې د څه باندې ۱۱ میلیونو افغانیو په لګښت د ۱۱ پرمختیایي پروژو چارې پیل شوې دي.
د یاد ریاست د ساختماني برخې انجنیر یما فرامرز باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه پرمختیایي پروژې د ناروې په مالي ملاتړ، د حضرت سلطان ولسوالۍ په ۵ کلیو کې پلي کېږي ... ۷مخ

بېرته راستنېدونکو افغانانو ته د اسلامي امارت له خوا د اسانتیاوو برابرول!

افغانستان چې د کډوالۍ اوږد تاریخ لري، اوس د یوه داسې فصل پر درشل ولاړ دی، چې د خپلو هېوادوالو بېرته غېږې ته راګرځول ورته نه یوازې انساني مسئولیت، بلکې د ملت جوړونې یوه ستره اړتیا ګڼل کېږي. د اسلامي امارت له لوري د بېرته راستنېدونکو افغانانو لپاره د آسانتیاوو برابرول په تېره بیا د اسلام‌قلعه بندر له لارې، د دولت د مسئولانه چلند، د خلکو پر وړاندې د ژمنتیا او د همدردۍ د ژور انساني احساس څرګندونه کوي. هغه زرګونه افغانان، چې په دې وروستیو کې د ګاونډې هېواد ایران او پاکستان له خاورې څخه په جبري ډول هېواد ته را استول شوي، له بېلابېلو اقتصادي، ټولنیزو او روحي فشارونو سره مخ دي.

په داسې حال کې چې ډېر هېوادونه پر دې ستونزو سترګې پټوي، خو اسلامي امارت نه یوازې د هغوی فزیکي انتقال ته پاملرنه کوي، بلکې د خوراک، درملو، نقدي مرستو، روغتیا، ټرانسپورټ او حتی د سیم کارتونو په کچه انساني آسانتیاوې ورته برابروي. دا هر څه د یو داسې نظام نښه ده، چې د خپل ولس درک لري او د هغوی د عزت، وقار او سوکالۍ لپاره عملي ګامونه اخلي. راستنېدونکي کډوال، چې د پردیو له خاورې ستړي شوي او د ژوند له ناخوالو ستومانه شوي وي، هغه څه ته اړتیا لري، چې بېرته د ژوند پر عادي مسیر ودرېږي. اسلامي امارت د بېلابېلو دولتي ادارو په همغږۍ سره، نه یوازې دا اړتیاوې درک کړي، بلکې د عمل په ډګر کې یې هم ورته ځواب ویلی. دا چارې نه یوازې په اداري لحاظ د ستاینې وړ دي، بلکې د ملت او دولت ترمنځ د باور، باورمندۍ او ملي یووالي د بیا رغونې یوه څرګنده بېلګه هم ده.

بېرته‌راستنېدنه باید یوازې فزیکي انتقال ونه ګڼل شي، بلکې دا یو بشپړ بشري، اقتصادي، رواني او ټولنیز بهیر دی، چې باید له هر اړخیز ملاتړ او پالنې سره مل وي. د اسلامي امارت له لوري د اسلام‌قلعه بندر له لارې بېرته‌راستنېدونکو افغانانو ته د عملي، انساني او بې‌سارو چوپړتیاوو برابرول، نه یوازې د یو ملت د انساني حیثیت درناوی دی، بلکې دا د یوه مسئول دولت د اخلاص او تعهد ژور انعکاس هم دی. هغه افغانان، چې له جبري اېستلو وروسته، له ستونزمنو حالاتو، ناهیلیو او بې‌سرپناهۍ سره بېرته خپل وطن ته راځي، که له پامه وغورځول شي، نو دا به نه یوازې د یوه انساني مسئولیت په وړاندې بې پروایي وي، بلکې د دولت او ملت تر منځ ژور واټن هم رامنځته کوي، خو که دوی د خپلې خاورې له غېږې تود هرکلی، خواړه، ټرانسپورټ، درملنه او مالي مرسته ترلاسه کوي، دا نه یوازې د دولت مشروعیت پیاوړی کوي، بلکې د ولس د اعتماد فضا هم بېرته رغوي. دا ډول اقدامات، که دوامدار، منظم او له ملي لیدلوري سره سم پرمخ ولاړ شي، نه یوازې د مهاجرت کړۍ د ماتېدو لامل کېږي، بلکې هېواد ته د کدرونو، مهارت لرونکو وګړو او تجربو بېرته انتقال ته هم زمینه برابروي. دولتونه هغه مهال پیاوړي وي، چې خپلو وګړو ته د بحران په وخت کې د پناه ځای او د اړتیا په وخت کې د غېږې تودوخه برابره کړي.

د اسلامي امارت دا هڅې که د نړیوالو همکارو موسسو، خیریه بنسټونو او عام ولس په ملاتړ سره بدرګه شي، کولای شي نه یوازې د کډوالۍ ستونزه راکمه کړي، بلکې د افغانانو ترمنځ د ملت جوړونې او ملي یووالي فضا هم لا پیاوړې کړي. بېرته‌راستنېدونکو ته د هرکلي پر دې لاره د عزت، عدالت او انسان‌محورو خدمتونو دوام، د یوه باعزته، خپلواک او ولس‌محور افغانستان بنسټ ایښی.

د جرمونو نړیوالې محکمې په هکله د اسلامي امارت دریځ د ټول امت لپاره ویاړ دی!

سعید غلجی

تېره ورځ تش په نامه «د جرمونو نړیوالې محکمې» د اسلامي امارت د زعیم عالیقدر امیرالمؤمنین -حفظه الله- او د سترې محکمې د قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني د نیولو حکم اعلان کړ!

جرم یې دا ښودل شوی، چې ګواکې دوی دواړه د بشري حقونو او په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو ناقصین دي.

له یوې خوا دا ډېره جالبه خبره ده، چې لا هم په نړۍ کې «د جرمونو نړیواله محکمه» موجوده ده، ځکه چې په نړۍ کې له روانو حالاتو خو داسې ښکاري، چې په نړۍ کې هیڅ اصول او هیڅ محکمه نشته، ځکه چې که قانون او محکمه وای، نو ایا داسې ظلمونه او فسادونه به روان وو؟!

بله خوا د دې تش په نامه محکمې خندوونکي حکم ته د اسلامي امارت د ویاند غبرګون هم خورا زیات جالب ؤ. ښاغلي مجاهد داسې توند غبرګون وښود، چې ښایي یاده محکمه له ډېرې حیرانتیا ګونګه پاتې شي.

ځکه په اوسني نړیوال نظم کې د نړۍ ټول واک فقط د یو څو لېوانو په لاس کې دی او پر نورو ولسونو د ظلم او جبر مېچنې څرخوي. د اسلامي نړۍ حاکمان په دې سیالۍ لګیا دي، چې په څه ډول نړیوالو بادارانو ته ځان ور نږدې کړي او د هغوی له خوا د «غوره غلام!» لقب وګټي. ځینې یې ټرمپ ته خپلې ښځې ورباسي او ځینې دغه وحشي درنده ته «د سولې اتل!» په توګه د نوبل جایزې غوښتنه کوي.

خو په دغه منځ کې د نړۍ پر مخ یوازنی سوچه اسلامي نظام او خپلواک حکومت راپورته کېږي او په ډېره بې پروایۍ د نړیوالو وحشي لېوانو پر وړاندې داسې نر دریځ اعلانوي، چې سرې ته د اسلامي امت د پخواني برم یاد ور تازه کوي.

ښاغلي مجاهد په پوره جرئت داسې اعلامیه خپره کړه:

«د تش په نامه نړیوالې محکمې د حکم په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې:

یو ځل بیا د نړیوالې محکمې تر نامه لاندې یو نهاد اعلان کړی چې د اسلامي امارت ځینې مشران باید ونیول شي او محاکمه کړای شي. داسې اعلانونه او اوتې بوتې، د اسلامي امارت په کلک هوډ او شرعي موقف باندې هېڅ اغیزه نشي کولای. موږ د نړیوالې محکمې په نامه او عنوان هېڅ نهاد نه پېژنو او نه ورته کوم التزام لرو.

په داسې حال کې چې د فلسطین په غزه کې د اسرائیلي صهیونیست رژیم او د هغوی د بهرنیو ملاتړو له خوا نسل وژنه روانه ده او په اصطلاح د نړیوالې محکمې تر سترګو لاندې هره ورځ سلګونه ښځې او ماشومان بې له کوم دلیل څخه وژل کېږي، نو د بشر د حقوقو، نړیوالې محکمې او انصاف شعارونه ورکول د شرم او خجالت خبره ده.

د افغانستان اسلامي امارت رهبري او مشرانو په افغانستان کې د اسلامي شریعت د سپېڅلو قوانینو په اساس بېساری عدالت حاکم کړی. د اسلامي شریعت قوانینو ته د بشر خلاف او د ظلم نسبت کول او تطبیق کوونکو ته یې د نیولو او محاکمه کولو اخطارونه ورکول، د اسلام له سپېڅلي دین او شرعي قوانینوسره ښکاره دښمني او کرکه په ډاګه کوي او د ټولو مسلمانانو معتقداتو ته سپکاوی دی.

ذبیح الله مجاهد، د اسلامي امارت ویاند»

په داسې توندو الفاظو او پوره جرئت د نړیوالو لېوانو پر خلاف اعلامیه خپرول او د حق اواز اوچتول د هر چا کار نه دی، دا توفیق الله تعالی یوازې هغو خلکو ته ورکوي، چې یوازې د هغه بنده ګي کوي، له ټولې نړۍ بې پروا وي، یوازې له خپل رب څخه وېرېږي، د نورو بندګانو له بنده ګۍ څخه باغي او د توحید پر عقیده سمبال وي. لله الحمد؛ نن موږ د همداسې یو مقدس اسلامي نظام څښتنان یو، نو باید چې هر اړخیز ملاتړ یې وکړو، فخر پرې وکړو، د قوت او استحکام لپاره یې هڅې وکړو او شکر یې اداء کړو، ځکه همدې نظام کې زموږ عزت خوندي دی او تر همدې بیرغ لاندې هسکه غړۍ ژوند کوو. تاسې په ټولنیزو رسنیو کې د نورې نړۍ مسلمانان وګورئ، څومره ارمانجن دي، چې کاشکې دوی هم د اسلامي امارت تر سیوري لاندې ژوند کولی او له همداسې رښتیني استقلال او سوچه اسلامي نظام څخه برخمن وای، هغوی په خپلو هېوادونو کې پر اسلامي امارت ویاړي او موږ ته د نړۍ په سطحه له ټولو د بختورو خلکو په سترګه ګوري، نو باید موږ هم د الله تعالی شکر ګذار واوسو، ځکه چې قران کریم کې ټینګار شوی، چې که زما د نعمتونو شکر مو اداء کړ، نور به یې هم درته زیات کړم، خو که زما د نعمتونو بې قدري او ناشکري مو وکړه، نو زما عذاب ډېر سخت دی.

بناءً؛ نورو اسلامي حکومتونو او د نړۍ ټولو مظلومو ملتونو ته هم لازمه ده، چې د دغو ظالمانو پر خلاف پرېکنده اواز پورته کړي، د خپلو حقوقو دفاع وکړي او د دوی تور مخ نړۍ ته په ډاګه کړي.

دا هغه لوی شیطانان دي، چې خپله لګیا دي، د شخصي ګټو په خاطر په نړۍ کې جګړې رامنځته کوي ... **۷مخ**

له افغان مهاجرینو سره د ایراني او پاکستاني چارواکو بد چلند د باور فضا زیانمنوي

سیف الله سیار

له افغان مهاجرینو سره د پاکستاني او ایراني چارواکو ناوړه چلند کولی شي په لاندې ډول زیانونه او پیښې رامنځ ته کړي:

۱- د اړیکو زیانمنول: د اسلامي امارت چارواکو د پاکستان پر چارواکو نیوکه کړې ده چې د افغان مهاجرینو جبري راوېستل او ورسره ناوړه چلند د دواړو هېوادونو ترمنځ د خلکو احساسات را پاروي. د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت د هغوی دا ډول چلند پاروونکی او زیان رسوونکی بللی دی. په ایران کې د افغانانو پر وړاندې تاوتریخوالی او جبري اخراج، په کابل، هرات او خوست کې د ایران پرضد لاریونونه راوپارول، چې د ډیپلوماتیکو اړیکو په تپه درولو کې مرسته کوي.

۲- له انساني حقونو څخه سرغړونه: په پاکستان کې د افغان مهاجرینو نیول او جبري اخراج په غیر انساني شرایطو کې (د وسپنې ګرمو قفسونو کې

ساتل) د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو غبرګونونه هم راپارولي دي. په ایران کې د افغانانو پر وړاندې تبعیض او له کورونو څخه هغوی ته د ګرځېدو امرونه او د پولیسو له خوا له هغوی سره د غیر انساني او بد چلند راپورونه د بشري حقونو د نقض بېلګې دي.

۳- ټولنیزه ناآرامي: د ایران او پاکستان په شمول د افغان مهاجرینو پر وړاندې تاوتریخوالی د محلي وګړو او مهاجرینو ترمنځ د شخړو لامل ګرځي. د بېلګې په ډول په ایران کې د یو افغان له خوا د یو ایراني وژنه چې په پایله کې یې د افغانانو کورونه وسوځول. همدارنګه د پاکستان په سرحدي سیمو کې....

۴- اقتصادي اغېزې: پر افغانستان د بېرته راستنېدونکو د مالي مرستو او د ژوند د شرایطو نشتوالی د کابل په څېر ښارونو کې د بې کورۍ او فقر کچه نوره هم لوړوي. په ایران کې د افغان کارګرانو د جبري اخراج له امله د کارګر ځواک کمښت هم محسوسېدلی شي، چې دا به د صنعت په برخه کې ستونزې رامنځ ته کړي.

۵- نړیوال فشار: د ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو سازمانونو غوښتنې چې د مهاجرینو حقوق وساتل شي، د ایران او پاکستان د حکومتونو د نړیوالې بې اعتبارۍ لامل ګرځي. د درې اړخیزو غونډو هڅې چې د مهاجرینو د ستونزو د حل لپاره باید جوړې شي، چې دا د نړیوالې ټولنې د مداخلې اړتیا ښیي. لنډه دا چې له افغان مهاجرینو سره بد چلند نه یوازې ډیپلوماتیکو او ټولنیزو اړیکو ته زیان اړوي، بلکې د انساني حقونو د نقض او د اقتصادي ناثاپې او نړیوالو محاکمو لامل هم کېدای شي. د دې ستونزو د حل لپاره د نړیوالو سازمانونو او سیمه ییزو حکومتونو همکارۍ اړینه ده. موږ باید پر یو بل باور ولرو او په ګاونډېتوب کې ژوند وکړو او د متقابل درناوي پر بنیاد یو له بل سره راشه درشه او اړیکې ولرو. بې مسئولیته خبرې او بد چلند باور له منځه وړي او نړیوالو استعمارچیانو ته د مداخلې او لاسوهنې زمینه برابروي، چې دا د ټولو په زیان ده.

افغانان د هېڅ بهرني قدرت تر ښکېلاک لاندې ژوند نه خوښوي

حیات الله حلیم

دا یو څرګند حقیقت دی چې افغانستان د تاریخ په اوږدو کې تل له ښکېلاکګرو سره لاس او ګرېوان پاتې شوی دی، علت یې هم واضح دی، ځکه د دغه ملک جیوپولتیک موقعیت د دې سبب شوی چې له یرغلګرو سره په جګړو کې ښکېوزي، پخوانیو حریصو اشغالګرو به تل هڅه کوله چې د هند طلایي مرغۍ د نیولو په لور د افغانستان له لارې عبور وکړي، افغانانو ته به ښه نه ښکارېدل له مجبورۍ به په جنګ ورسره واوښتل، خو تاریخونه ګواه دي، چې هرځل به پخواني مهاجمین د معاصرو روسانو او امریکایانو په شان هدف ته له رسېدو د مخه په نیمه لاره کې نیمه خوا پاتې شول او شرمنده به یې د خپلو ملکونو په لورېښې سپکې کړې. سکندرمقدوني د باد په شان له یونان څخه د افغانستان تر پولو را ورسېد، د ایراني هخامنشیانو په شمول یې د لارې په سر ټول قدرتونه ختم او د دوی ملکونه یې د سترګو په رپ کې فتح کړل، خو په افغانستان کې د هند د نیولو په تمه څلورکاله وځنډېد، چې مور یې (د څه شوې؟) پیغام هم پسې را واستاوه، د افغانانو د غیرت په اړه، د ده له خولې په میراث پاتې دا کلام تر نن پورې د نړۍ په تاریخونو کې لوستل کېږي: [الله پاک مو د کبرا مار له زهرو، د پړانګ له تېرو داړو او د افغانانو له غچ اخیستنې وساته] خونړي چنګیز که پرافغانانو هرڅومره ظلمونه وکړل، خو بیا یې هم په بامیانوکې د لمسی له وژلو پرته نور څه په لاس ور نه وړل، همدا راز ګوډ تیمورهم په سیستان کې له افغانانوسره په جنګ کې خپله پښه له لاسه ورکړه او ګوډ ترې جوړ شو، انګریزان درې ځلې په افغانستان کې مات شول، روسانو د هند تودو اوبو ته د رسېدو هیلې په ډک زړه بېرته روسیې ته ورسره یوړې، نه یوازې دا، بلکې د افغانانو د مبارزو له برکته اتحاد جماهیرشوروي (!) منحل او په خالي روسیه بدل شو «اې ، اف ، کې اورګا نسکي» جرمن تاریخ لیکونکی د افغانستان په اړه لیکي: « سیام او افغانستان د نړۍ دوه هغه ملکونه دي چې هېڅکله د سیاسي او نظامي ښکېلاک تر ځغ لاندې نه دي تللي او اروپایانو او نورو پراختیا غوښتونکو مستقیمه واکمني نه ده پرې چلولې » د امریکا پخواني جمهوررئیس جوبایډن د ۲۰۲۲ کال د جنوري میاشتې په ۲۰ مه نېټه د خپل هېواد کانګرس ته وویل : «افغانستان د امپراتوریو ګورستان دی اوهېڅوک نشي کولای چې د دغه هېواد خلک تر یوه واحد چتر لاندې منظم او منسجم کړي، نو ځکه موږ په دغه ملک کې ماتې وخوړه او خپل عسکرمو ترې را واېستل» د سکندرمقدوني، هتلر، اف اورګانسکي اوجوبایډن له تحلیلونو معلومېږي چې افغانستان داسې یوهېواد دی چې اشغال شوی،و خوهېڅکله په خلاصو متو چا پرې حکومت نه دی کړی، نو ښه به دا وي چې پراختیا غوښتونکي یرغلګر هېڅکله زموږ ملک په خیرنو او چوخړنو سترګو ونه ګوري، بل یو واضح حقیقت ... **۷مخ**

داخلي تولید او د ځان بسیاینې سیاست په اسلامي تاریخ کې

محمد قاسم عزام

اسلام د خپلواکې اقتصادي ودې، د شتمنۍ دپاکې سرچینې او د امت د اقتصادي عـزت ملاتړ کـوي. د داخلي تولید پیاوړتیا او د ځان بسیاینې سیاست د همدې موخو د تحقق لپاره یو اساسي اصـل ګڼل کېږي. کلـه چې یو ملت پر خپل تولیـد، مهارت او کار تکیه ولري، نه یوازې د نورو محتاج نه پاتې کېږي، بلکې خپل سیاسي، فکري او ټولنیز استقلال هم ساتلی شي. دا اصل نه یواځې د عقل، بلکې د شریعت له نظره هم مطلوب او اړین ګڼل شـوی دی. د اسـلامي تاریخ تجربو دا ثابته کړې ده، هغـه دورې چې امت په اقتصادي توګه پیاوړی و، د خپل تولیـد، خپل کار او خپل بازار پر بنسټ یې ودې موندلې وې.

رسـول الله ﷺ په مدینه منوره کې د اسـلامي دولت له تأسیس سره سم د اقتصادي ژوند بنسټونه کېښودل او د تولید، بازار، کار، او سـالمې تبادلې لپـاره یې عملي اقدامات ترسره کړل. که څه هم د هجرت پر مهال اسلامي دولت له سیاسي او اقتصادي اړخه ډېر ابتدايي و، خو پیغمبر ﷺ د دین د خپرېدو تر څنګ دا هم لازمه ګڼله چې مسـلمانان له اقتصادي اړخه خپلواک او باعزته شي. ده ﷺ د کار کولو، د تولید ارزښت او د بازار د تنظیم اصول خلکو ته ورښـوول، څو مسـلمانان له فقر، احتیاج او اقتصادي غلامۍ وژغـورل شي. د صحابه کرامو ژوند د دې ارشاداتو عملي بېلګه وه. د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه مثال ډېر روښـانـه دی. کله چې هغه له مکې څخه مدینې تـه هجرت وکړ، انصارو ورسره د مرسـتې تـر وواهـه،

خو هغه له هر ډول مالي مرستې انـکار وکړ، ويې ویل: "بازار را وښیه! او خپل کار یې پیل کړ. دا اقدام د یو فرد په توګه د غیرت، اعتماد او استقلال نښه وه، خو له بلې خوا دا هم ښيي چې صحابه کرام د رسول الله ﷺ د تعلیماتو پر بنسټ پوهېدل چې د یو سالم امت جوړښت یوازې د عباداتو، اخلاقو او عقیدې له لارې تحقق نه شي موندلـی، بلکې اقتصادي

> **اسلام د اقتصادي غلامۍ خلاف دی. شریعت امر کوي چې امت باید له اقتصادي اړخه محتاج نه وي. د نبـي ﷺ دا وینا ډېره ژوره معنا لري: «الید العلیا خیر من الید السـفلی»؛ یعنې د پور ورکوونکی لاس له اخیسـتونکي نه بهتر دی. دا حکم نه یوازې د افرادو لپاره، بلکې د امتونو لپاره هم پیاوړی پیغام لري. امت باید داسې تولیدات ولري، چې له نورو یې وا نه خلي، بلکې خپل ضرورتونه له خپلو سرچینو پوره کوي.**

پیاوړتیـا، کار او خپـل تولیـد هم د امت د بقـاء او عزت لپاره ضروري دي. د عبدالرحمـن بن عـوف رض دا موقـف دا پیغام ورکوي چې اقتصادي خپلواکي نــه د خیراتونــو، نه د مرسـتو، بلکې د تولید، بازار ته د داخلېدو او هڅې له لارې تر لاسه کېږي او دا د ځان بسیاینې د سیاست یو واضح مثال ګڼل کېږي.

اسلام د اقتصادي غلامۍ خلاف دی. شریعت امر کوي چې امت باید له اقتصادي اړخه محتاج نه وي. د نبي ﷺ دا وینا ډېره ژوره معنا لري: «الید العلیا خیر من الید السفلی»؛ یعنې د پور ورکوونکی لاس له اخیستونکي نه بهتر دی. دا حکم نه یوازې د افرادو لپاره، بلکـې د امتونو لپاره هم پیاوړی پیغـام لـري. امت باید داسـې تولیدات ولري، چې له نورو یې وا نه خلي، بلکې خپل ضرورتونه له خپلو سرچینو پوره کوي.

د خلافتونو پـه دورو کې داخلي تولید ته ځانګړې پاملرنه کېده. د عمر بـن الخطـاب رضي الله عنه خلافت یوه ښـکاره بېلګه ده. هغـه بـه د زراعتي ځمکو سروې کولـه، د اوبـو مدیریت تـه یې توجه درلـوده او د فلاح او زراعـت هـره برخـه به یې فعاله سـاتله. هغـه د خراج او عشر لـه لارې د زراعت ملاتړ وکړ، چې نـه یـوازې د دولت عواید زیات شول، بلکې خلکو د خپل تولید پر بنسـټ ژوند ته غاړه کېښوده. په همدې توګه، د عباسي دورې لومړني وختونه د تولید، صنعت او تجارت له پلوه د اسـلامي اقتصاد زرین دور و. صنعتي کارخانې، د کاغذ تولید، د پارچې او فولادو صنعت، طبي وسـایل او د نورو اړینو شـیانو تولید د بغداد، دمشق او اندلس په ښارونو کې داخلي اړتیاوې پوره کولې. دا ټول د ځان بسـیاینې د سیاسـت پایله وه، ځکه اسلامي حکومتونو کوښـښ کاوه چې امت له اقتصادي اړخه خپلواک پاتې شي.

اسـلام د فطري منابعـو، کار او مهارت ارزښـت ډېر لوړ ګڼي. کار کول عبادت بلل شـوي دي. د نبـي ﷺ لـه سـنتو څخه دا روښانه کېږي چې کسب حلال، داخلي مهارت او خپلواکي د رزق مشروعـې لارې دي. نبـی علیه السلام به هغه کسان ستایل، چې خپله ګوزاره یې له کار او تولید څخه کوله. د اسلام تعلیم دا دی چې انسان دې له خپلې خاورې، خپل اسـتعداد او خپلـو منابعو کار واخلي. د قـرآني مفاهیمو له مخې، الله تعالی انسان ته زمیني وسایل برابر کړي او دا وسایل د تولید او کار وسـیله ګرځي. دا ټول موږ ته ښـوونه کوي چې د داخلي تولید پراختیا او د وارداتو پر ځای د خپلو محصولاتو تولید نه یوازې اقتصادي، بلکې شرعي لاره ده.

تاریـخ دا حقیقـت څرګندوي چـې هـر کلـه اسـلامي امت خپل اقتصادي اسـتقلال له لاسه ورکړی، وارداتو ته محتاج شوی او د نـورو ملتونـو تولیداتو ته یــې تکیه کـړې، هماغه وخت یې نه یوازې اقتصادي کمزوري پیل شـوې، بلکې لـه هغې سره فکري ضعف او سیاسي انحصار هم پیدا شوی. د عثماني خلافت وروستۍ پېړۍ د دې ضعف یوه روښـانه بېلګه ده. پـه دې دوره کې اروپایـي هېوادونـو، لکه انګلستان، فرانسې او آلمان، خپل صنعتي تولیدات د عثماني خلافت بازارونـو تـه صـادرول، خـو عثمانیانو د خپل صنعت پراختیا ته لازم پام ونه کـړ. دا تعامل د دې سبب شو چې د داخلي تولید بنسټونه کمزوري شي، صنایع له ودې پاتې شي او بالاخره عثمانیان د وارداتو له کبلـه تر ډېره حده اقتصادي انحصار ته غاړه کېږدي. د بېلګـې پـه توګـه، اروپایي شرکتونو د عثماني بازارونو لپاره جامې، وسلې، ماشینونه او حتی دارالطباعې جوړولې او په ځینو برخو کې دا حالت دومره شدید و، چې عثماني خلافت مجبور و خپل پوځ ته یونیفورمونه هم له فرانسې یا انګلستانه وارد کړي. دې اقتصادي محتاجۍ د سـیاسي فشـارونو لاره پرانسته، اروپایي ځواکونه د عثماني تصمیمونو په اغېزمنولـو و توانېـدل، د ځینو سـیمو پـر سرچینو یې تسـلط پیدا کـړ او بالاخره یې د عثماني حاکمیـت زوال تـه لاره هواره کـړه. برعکس، د هغـو دورو مسـلمانان چې خپل تولید، خپل صنعت او خپل زراعت یې فعال ساتلی و، سیاسي ثبات او ځواک یې هم لرلی دی. د عباسي خلافت د مأمون او منصور د زمانې بغداد یو مثال دی، چـې د کاغذ، طبي وسایلو، فني کتابونو او جامو په تولید کې خپلواک و، د بازارونو، کارخانـو او ماهـرو کاریګرو فعال سیستم یې درلود او د همدې اقتصـادي خپلواکـۍ برکت و، چـې دا دوره د اسـلامي تمدن د زرین عصر په نامـه یادېږي. دا واقعیت څرګندوي چې د تولید بنسـټونه هر چېرې قـوي وي، هلتـه امتونه خپل عـزت، واک او تصمیـم لـري او چېرې چې واردات د ژوند محور وګرځي، هلته امتونه د پردیو محتاج پاتې کېږي، فکري اشغال پیدا کېږي او سیاسي خپلواکي له منځه ځي. د معاصرو اسـلامي حرکتونو له مهمو شـعارونو څخـه یو هم د ځان بسیاینې اصل دی ... **۷مخ**

د هېواد په پرمختګ او ودانولو کې د دولت او ولس ګډ مسئولیت

شېرمحمد امیني ستانکزی

د هر هېـواد پرمختګ هغه مهال ممکـن دی، چې نظام او ولس په ګډه کار وکـړي، یو له بله ملاتړ وکړي او د ملي موخو په ترلاسـه کولو کې ګډ مسـئولیت پر غاړه واخلي.

د افغانسـتان وروسـتیو پېښـو وښـوده، چې یوازې حکومتونه، نـه شي کـولای هېوادونـه د پرمختګ لوړ پوړ ته ورسـوي؛ بلکـې د ولس فعاله ونډه، عزم او ملي احساس بنسټیز اهمیت لري.

له هغه وختـه، چې افغانسـتان لـه بهرني اشـغال څخـه آزاد او اسلامي نظام په کې حاکم شو، ورسره جوخت د سـولې او امن فضا رامنځته شـوه. دغې سـوله ییزې فضا نه یـوازې ولس ته د راحت احسـاس ورکـړ؛ بلکې یو نوی فصل یـې د پرمختګ او ټولنیزې هوساینې لپاره پرانیست او افغانـان اوس غـواړي، چې د امن له دې فرصـت څخه پراخه ګټه واخلي.

د افغانسـتان د نـوي تاریخ دغه مهم پړاو د ولـس د رغنده ونډې غوښـتنه کـوي، ولسـونه بایـد نور یـوازې تمثیلي برخـه نه وي؛ بلکې په عملـي ډول باید د هېواد د بیارغونـې، اقتصـادي پراختیا، ټولنیز ثبات، ښـوونې، روزنې او عـصري ټکنالـوژۍ د پراخولو لپاره لاس په کار شي.

پانګوال، شتمن وګړي او سوداګر بایـد خپـل مسـئولیت وپېژني، نومـوړي باید کورنـۍ پانګونې ډېرې کړي. په همدې توګه دولت د نویو پروژو عملي کولو ته لارې هوارې کړي او نوي نسل په پوهې سـمبالو او تخصصي کدرونو ته د کار او نوښت زمینه برابره کړي. همداراز له علمي استعدادونو او فکري ظرفیتونو څخه باید بشپړه ګټه واخیستل شي.

زموږ ملت د تېرو لسیزو جګړو لـه کبله ډېـر کدرونه له لاسـه ورکـړل، خو اوس یو نوی نسـل روزل شـوی، چـې لـه پوهې، اسـتعداد او نوښتونو ډک دی. دا نسل باید له هېواده بهر د تګ پر ځای، دلته د ملت د خدمت لپاره وهڅول شي.

له همدې امله د دولت او ولس ګډ مسئولیت دی، چې دغه ځوانان په مختلفو برخـو کې وهڅوي، ملاتـړ یـې وکـړي او د هغوی نظرونو ته ارزښت ورکړي.

یـو بل بنسـټیز اړخ، چې د ولس پـر غـاړه دی، د زده کـړو ملاتړ او د خپلـو اولادونـو روزنه ده. باید هڅه وشي، چې هر ماشـوم ښـوونځي او دیني مدرسې ته لاړ شي، لوړې زده کـړې وکړي او د خپلې ټولنـې د یو رغنـده غړي په توګـه وروزل شي. ځکه ننۍ نړۍ د علـم، ټکنالوژۍ او پوهې پر مـټ د پرمختـګ څوکو ته رسېدلې ده.

افغانسـتان هم که غواړي له نړۍ سره سـیالي وکـړي، بایـد په دې برخـو کې پانګونـه وکړي او دا کار یـوازې د ملـت او دولت په ګډو هڅو ممکن دی.

پـه پای کـې، باید ووایـو چې د هېـواد بیـا رغونـه، جوړونه او پرمختګ یـوازې د دولت کار نه دی، بلکې د هر وګړي مسئولیت دی. هر فرد باید خپل مسـئولیت وپېژني، له نظام سره اوږه ورکړي او په ټولنیزو، اقتصادي او علمي برخو کې رغنـده ونډه واخلي. دا ګډ کار او ګډ مسئولیت به زموږ هېواد لـه فقـر او بېوزلۍ څخه راوباسـي او د پرمختګ په لوري به یې بوزي.

ان شاءالله

له پاکو اوبو سره بې پروا چال چلند د خالق تعالی د نارضایتۍ او د انسانانو د بې آبۍ سبب ګرځي

څلورمه او وروستۍ برخه

قاضي سید اختیار سباوون

پاکې اوبه د الله سـبحانه وتعالی له ټولو سـتر او بـې بدیله نعمت دی، د اوبـو څټلول او له اړتیا پرته یې ضایع کول د دغه ستر نعمت پر وړانـدې کفران یا ناشـکري او له ژوندیو مخلوقاتو سـره ظلم دی ، چې د خالق تعالی «جلّ شـأنه» د نارضایتۍ او له نعمتونو څخه یې د حرمان سبب ګرځي!

نن سبا د نړۍ خبرونه د دې حاکي دي چـې د روغتیـا نړیواله اداره وایي: اوبـه په ډېـره تېزۍ سره مخ پـر کمېدو دي او پـه ۲۰۲۵ کال کې بـه ډېر خلک د اوبو له کمښت سره مخامخ شي. دوی په خپلو ګزارشـاتو کې وایي چې د اوبو دبېرحمه استعمال له کبله او د موسمونو د تبدیلۍ له وجې په ځمکه کې اوبه ښکته رواني دي . د دوی تشـویش او د اوبـو د کمښت ستونزې ته که ځیر شو، نو د رسـول الله صلـی الله علیه وسـلم د دغو لارښـوونو په قدر او منزلـت پوهېدلی شـو، چې ښوارلس سوه کاله پخوا یې راته کـړي دي. هغه صلـی الله علیه وسـلم د اوبو په استعمال کې پر احتیاط کولو دومره تأکید کړی دی چـې کـه پـه روان نهر هم څوک د اوبو په استعمال بوخت وي، باید بېځایه یې ونه لګوي او اسراف پکې ونه کړي .

د قران په سـورة الملـک کې یو الهی ارشاد داسې دی چې فرمایی : قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَـنْ يَأْتِيكُـمْ بِمَاءٍ مَعِينٍ (سـورة الملك، ۳۰)

یعنـي ای پېغمبره (ص)! ته خپل امت ته ووایـه، که اوبه ځمکه کـې لانـدې ژورې ولاړې شي، څوک به تاسـو تـه بهیدونکې اوبه راوړي. په ښـکاره توګه له دې ایت نه معلومولی شـو، چې که اوبه لانـدې ولاړې شي بېرته ترلاسه کول یې اسانه نه، بلکې ډېر سـخت کار دی او بل دا چې دا امکان هم شـته چې دانسانانو دناشـکرۍ له وجې اوبه لاندې د ځمکې تل ته ولاړې شـی چې هېڅوک به یی په بېرته راخېژولو قادر ونه اوسي .

همدا راز په سـورة انعام کې الله پاک سـبحانه وتعالـی فرمایي چـې د اوبـو په خلقـت کې د الله سـبحانه و تعالی د قدرت او دهغه د خالقیت دعظمت دلایل او نښې انسـانانو ته ښوول شوي دي، لهذا د اوبو په اسـتعمالولو کـې اسراف کـول د الله پاک د قدرت د علایمـو او د خالقیت د عظمت د دلیلونو او نښـانونو په حق کې اسـتخفاف دی او د الله پاک د وحدانیت او قدرت د نښو او دلیلونو استخفاف حرام مطلق دی. اله العلمین په دې اړه داسـې ارشاد فرمایي : (وَهُوَ الَّذِي أَنزَلَ مِنَ السَّـمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَأَخْرَجْنَـا مِنْـهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّاتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشْـتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَـابِهٍ ۗ انظُرُوا إِلَىٰ ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ

یو بـل مورد کـې الله پـاک په استفهامي توګه مؤمنان شکر ان ته هڅولي او له کفران نعمت څخه یی منع کـړي دی . (أَفَرَأَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُـونَ ۝ أَأَنْتُمْ أَنْزَلْتُمُوهُ مِـنَ الْمُزْنِ أَمْ نَحْـنُ الْمُنْزِلُونَ ۝ لَوْ نَشَـاءُ جَعَلْنَـاهُ أُجَاجًـا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ)[الواقعة:۶۸-۷۰].

یعني: په دې مو کله سوچ او فکر کـړی دی چې دا تاسـې یئ چې کومې اوبه څښئ او ستاسو ژوند پـرې دوام مومي ایا دا تاسـې له وریځو څخه رااورولې دي او که ستاسو خالق او رب العلمین درته له پاس څخـه درکوزې کړیدی؟ ولې فکر نه کوئ او ولې شکر نه کاږئ، دا خـو د رب العلمین جلّ جلالـه رحـم او پېرزوینه ده پر تاسـو ، که خالق تبارک و تعالی غوښـتي وای، نو کولی یې شوای چې داسـې تروې او تروشې اوبه یی درکړې وای چې نه به د څښلو

لپاره مناسبې او داستفادې وړ وې او نـه به یې د کرکېلې او زراعت لپاره کومه ګټه کوله، نو ولې ددې خوږو اوبـو د لورینې له کبله د خپل رب شکر نه اداء کوئ؟

امـام احمد رح په مسـند احمد کې د حـضرت عبدالله ابن عمر رض یوه پېښـه رانقل کړېده چې (ولما شرب عبـد الله بن عمر ماء باردا بکی فاشتد بکاؤه فقیل له: ما یبکیك؟ قال: ذکرت آیة في کتاب اللـه -عز وجـل) (وَحِيـلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ)[سبأ: ۵۴]، (قال: فعرفت أن أهل النار لا یشـتهون شـیئا إلا الماء البارد(رواه أحمد في الزهد).

حضرت ابن عمـر رض یوه ورځ یخې اوبه وڅښلې، نو په ژړا شو او ژړا یی شدیده شوه نو ملګرو ترې وپوښـتل چې ولـې ژاړې؟ ده ورتـه وفرمایل چې د الله -عز وجل- د کتـاب دا ایت مې رایاد شو چې کله دوزخیان له جنتیانو اوبه وغواړي، نـو د دوی ترمنځ به پرده واقـع شي او ددوزخیانو هېله به ترسره نشي : (وَحِيلَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ مَا يَشْتَهُونَ)[سـبأ: ۵۴]، بیا یی وویل: زه اوس پوه شـوم چې دوزخیان بل ارمان نه لري پرته د یخو اوبو له څښلو (رواه أحمد في الزهد).

حضرت ابن أبي حاتم له حضرت جابر او هغه لـه حضرت جعفر (رضوان الله عنهـم اجمعین) او هغه له نبي کریم (صلی الله علیه وسـلم) څخه روایت کوي چې کله به هغه مبارک اوبه وڅښلې، نو دا دعاء به یط وویله: «الحمد لله سقانا فراتا برحمته ولم یجعله أجاجـا بذنوبنا» د الله پاک حمد او شکر اداء کوم چې پر موږ یې د خپـل رحمت په برکت خوږې اوبه وڅښلې او زموږ د ګناهونو له امله یې اوبه راته تروې نه کړې چې د څښاک وړ ونه اوسي .

لهذا د اوبو شکران اداء کول دانه دي چې یوازې پـر خوله الحمد لله وایو او عملاً اوبه ضایع کوو ، بلکې د اوبو شـکرګذارې داده چې ورتـه د الله پاک سـبحانه وتعالی د نعمت په سـترګه وکتل شي او په پاک ساتلو او دپاکوالي لپاره یېپه کارولو او د استعمال په ټولو مواردو کې له اعتدال څخه کار واخیسـتل شي او د اوبـو د ضایـع کېدو او بېځایه اسـتعمال او په اسـتعمال کـې دافراط او زیـاتي مخنیـوی وشي . خالـق تبـارک و تعالی فرمایی چې موږ د ټولـو ژوندیو موجوداتو د اړتیا او ضرورت پـه انـدازه اوبـه په ځمکـه کـې پیدا کـړې دي او که انسـان ورسره داسـتعمال په چلنـد کې احتیاط ونـه کړي او دبېځایه ضایـع کولو په توګه یی ناشـکري او کفران وکـړي، نو کولی شـو چې دا نعمت ورڅخه بېرته واخلو ! : (وأنزلنا من السماء ماء بقدر فأسـكنه في الأرض وإنا عـلی ذهاب منه لقادرون) سـورة المؤمنون الآیة ۱۸

د اللـه پـاک پر نعمتونو شـکر وېسـتل دانه دي چـې یوازې په ژبه د شـکر الفـاظ اداء کړو، بلکې قرانکریم کې د شکر کلمه یوازې ویلو ته نه ده کارول شوې، بلکې عمل هم ورڅخه هدف دی . هـر چېرته چې د شـکر ذکر راغلـی دی، نو عملي شـکر ترې مفهوم او مراد دی. لهذا یو دژبې شکر دی، چې شکر اللسان ورته ویل کیږي او بـل دعمل او فعل په کولو سره شکر اداء کول دی. شکر العمل والارکان... **۷مخ**

د ځمکې لـــومړی بنــاء

مولوي ضیاء الحق «حسان»

بیت الله اوله بنا ده په ځمکه کې، دغه د همدې بیت د عظمت لپاره کاپي ده، دې لور ته د مسلمه امت ټول وګړي د لمانځه پر مهال مخ اړوي، د خوب پر مهال هم سنت طریقه دا ده چې د بیت الله لور ته مخ کړې، د مالونو حلالولو پر مهال هم د دوی مخونه د بیت الله لور ته کوو او د دنیوي ژوند سفر مو چې کله هم ختم شي د قبر غیږ کې د دې مبارک بیت لور ته مخ اړوو.

زموږ ټولنه کې بیا د دې سپیڅلي بیت ادب دومره زیات دی چې د ناستې پر مهال هم دې لور ته پښې نه اوږدوو، تېر کال حج کې وو، هلته به د نورو هېوادونو خلک حرم شریف کې ناست وو او کله نا کله به یې د بیت الله لور ته پښې اوږدولې، زما په حلقه کې یو حاجي صاحب و، راته ویل یې: مولوي صاحب! الله تعالی دې زموږ علماء وساتي، موږ یې څومره ښه روزلي یو، آن له افغانستانه هم دې لور ته پښې نه اوږدوو.

دا چې اوس ډېر کسان د دې لوی کور له عظمته ناخبره او ځینې بیا نورې نورې خبرې کوي، راځئ د دې کور د عظمت په اړه لاندې تحقیق چې امام قرطبي رحمه الله د دې ایت (ان اول بیت وضع للناس للذي ببکة مبارکا و هدی للعالمین (۹٦) کړی ولولو، تر څو د دې سپیڅلي بیت عظمت مو زړونو کې لا نور تاند شي . له ابي ذر رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي له رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه مې پوښتنه وکړه: اول کوم جماعت دی چې په ځمکه کې جوړ شوی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وویل: مسجد الحرام. بیا مې ترې تپوس وکړ: بیا کوم؟ ویې ویل: مسجد الأقصی. بیا مې ورته وویل: د دوی منځ کې څومره وخت و؟ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وویل: څلویښت کاله، وروسته له دې ځمکه ټوله ستا لپاره مسجد وګرځېده، چېرته دې چې لمونځ پیدا کړ ویې کړه!

مجاهد او قتاده رحمهما الله وایي: له دې وړاندې بیت نه دی جوړ شوی. علی رضي الله عنه وایي: له بیت الله وړاندې زیاتې بیتې وې، خو دا لومړی بیت دی چې د عبادت لپاره جوړ شوی.

مجاهد رحمه الله وایي: مسلمانانو او یهودو فخر کولو، یهودو ویل: بیت المقدس لوی او بهتر دی له کعبې څخه، ځکه دا د انبیاوو د هجرت ځای او په مقدسه ځمکه کې دی او مسلمانانو ویل: کعبه افضله او بهتره ده، نو الله تعالی دغه آیت نازل کړ.

مجاهد رحمه الله وایي: الله تعالی د دې بیت ځای دوه زره کاله وړاندې، داسې مهال پیدا کړ چې له دې وړاندې یې له ځمکې څخه هیڅ هم نه وو پیدا کړي او تهدابونه یې په اوومه ځمکه کې لاندې وو او هر چه مسجد اقصی دی، حضرت سلیمان علیه السلام بناء کړی، امام النسائي د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه روایت رانقل کړی. له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت دی: په تحقیق سره سلیمان بن داود علیه السلام هر کله چې بیت المقدس بنا کولو، له الله تعالی څخه یې درې شیان وغوښتل:

الف: له الله تعالی څخه یې وغوښتل چې: د داسې پوهې (حکمت) خاوند شي چې د ده پرېکړې (فیصلې) له الهي حکم سره سمون ولري، نو الله هغه ته دا ورکړه.

ب: له الله تعالی څخه یې سوال وکړ: د داسې بادشاهۍ چې له ده وروسته له هیچا سره هم مناسبه نه وي، نو الله تعالی همداسې بادشاهي ورکړه.

ج: او چې کله د مسجد له جوړولو فارغ شو له الله تعالی یې سوال وکړ چې هیڅوک هم دې مسجد ته نه راځي مګر د لمانځه لپاره ته یې له ګناهونو څخه داسې پاک کړې لکه په کومه ورځ چې مور زیږولی وي. نو د دې دوو احادیثو تر منځ اشکال راغی، ځکه د ابراهیم او ... ٦مخ

استخراجي ټکنالوژي د سمندر له ژورو څخه د نوښت سرچینې

ادریس سنګر

جاپان د ۲۰۲٦ م کال له جنوري میاشتې راهیسې پلان لري چې له خپلې ځانګړې اقتصادي سیمې (EEZ) څخه په نړۍ کې په لومړي ځل د نادرې ځمکې لرونکې خاورې استخراج پیل کړي، چې موخه یې د لازمو فلزاتو لکه ندیومیم، ډیسپروسیوم، ګادولینیوم او تریبیوم لپاره داخلي سرچینې رامنځته کول دي .

ستراتېژیکه موخه: د دغې پروژې مشري د کابینې د دفتر د سمندري نوښتونو د پلاتفورم له خوا ترسره کېږي. د شعیاچي ایشي په وینا، موخه یوازې اقتصادي ګټه نه؛ بلکې ملي امنیت پیاوړی کول دي، ترڅو د چین د صادراتو د محدودیتونو په شرایطو کې د جاپان صنعتي اړتیاوې داخلي منابعو ته واړول شي .

تخنیکي بدیعې او ننګونې: ژور سمندر ته د رسایي وسیلې: د ۵۰۰۰–٦۰۰۰ متره ژورو ته د رسېدو لپاره ډوله پایپ لاینونه چې د JAMSTEC د سمندري څېړنیزې کښتۍ لهخوا عملي کېږي .

مرحله یي پلان: ۱- د ۲۰۲٦ جنوري: د خاورې لومړی آزموینښتي استخراج.

۲- د ۲۰۲۷ جنوري: د ورځنۍ ۳۵۰ ټنه استخراج لپاره د عملي عملیاتو پیل.

خو دا پروسه له تکنیکي ننګونو سره مل ده، لکه د ژور سمندر چاپېریالي حساسیت، فشار، ټکنالوژي او د استخراج او پروسس اقتصادي محاسبه .

د برښنا د جذب لپاره تازه نوښت: د NTT تر سرپرستۍ لاندې، جاپاني څېړونکو د "دورن-چلید برښنا جذبوونکي ډرون" سیستم پرمخ بیایي چې د طوفاني برښنا په وخت کې د ډرون په کارولو سره برښنا جذب او کنټرولوي .

د ټکنالوژۍ ځانګړتیاوې: د فارادې قفس محافظت: د ډرون په شا کې داسې قفس جوړ شوی چې د ۱۵۰ kA برښنا برداشت کوي، پرته له دې چې ډرون زیانمن شي .

برښنايي ډراږ (Ground Wire): د دې لپاره ترتیب شوی چې د ځمکې او کلاوډ ترمنځ برښنايي ساحه فعاله کړي او د ډرون له لارې برښنا رهنمايي کړي .

عملي ازموینه: په ډسمبر ۲۰۲٤ کې د شیمانه ولایت د هامادا ښار په شاوخوا کې ترسره شوې، چې ډرون ۳۰۰ متره پورته شوی او برښنا یې په برښنايي قفس کې ظاهره شوې، خو ډرون باثباته پاتې شوی .

راتلونکي هدفونه : NTT وړاندیز کوي چې دا ټکنالوژي کولی شي د ښارونو، قالینو برښنايي تاسیساتو، وینډ ټرباینونو او نورو لوړ خطر نښو ساتنه وکړي، همدارنګه د جذب شوې برښنا د ذخیرې او کاروني پر لارې کار وکړي .

جاپان چې د انرژۍ او استخراج د ټکنالوژۍ نوې لوري لټوي، د ژور سمندر په خاورې کې د نادره ځمکې استخراج پیلوي.

NTT بیا د "دورن-چلیدۍ برښنا جذبوونکي ډرون" ټکنالوژي وړاندې کړې ترڅو د طوفانونو پر مهال ښارونه خوندي او د برښنا نوې سرچینه ممکنه کړي.

د دغو نوښتونو بریا کولی شي جاپان ته د نامن نړیوال وضعیت په وخت کې د انرژۍ او ټکنالوژۍ په برخه کې ځان بسیاینې ته لاره پرانیزي، همدا راز نړیوالو ته د چاپېریال د دوستانه استخراج او پرمختللي ساتنې د نوښتونو لپاره الهام ورکړي.

ویژه‌گی‌های پولیس مؤمن در جامعه اسلامی

پوهنیار سمونوال قاری عبدالعظیم عظیمی

پولیس مؤمن در جامعه اسلامی نه‌تنها مجری قانون بلکه الگوی اخلاق، عدالت، تقوا و مسئولیت‌پذیری نیز می‌باشند.

در این مقاله تلاش شده تا با استناد به منابع معتبر اهل سنت، ویژگی‌های اصلی یک پولیس مؤمن را از نگاه قرآن، سنت و فقه اسلامی تبیین نماییم. هدف این است تا نیروهای امنیتی اسلامی در کنار قدرت، آراسته به ایمان و عدالت نیز باشند. در جامعه اسلامی، پولیس نقشی فراتر از یک نهاد نظامی دارد. او پاسدار نظم، حافظ حقوق مردم و نگهبان ارزش‌های اسلامی است. وقتی این وظیفه با ایمان، صداقت و اخلاق اسلامی آمیخته می‌شود، پولیس نه‌تنها امنیت، بلکه اعتماد و عدالت را نیز به جامعه هدیه می‌دهد. دراین تحقیق به بررسی صفات لازم پولیس مؤمن پرداخته شده است.

ویژه‌گی‌های پولیس مؤمن از دیدگاه اسلام :

۱- ایمان و تقوا: پولیس مؤمن باید از تقوا برخوردار باشد تا در اجرای عدالت دچار انحراف نشود.

۲- عدالت‌محوری: رسول‌الله صلی الله علیه و سلم فرمودند:

ظلم در اجرای قانون خلاف ایمان است. پولیس مؤمن عادل است، حتی اگر به ضرر خود یا نزدیکانش باشد.

۳- راست‌گویی و صداقت: پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمودند: «عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ...» (صحیح بخاری)

صداقت، پایه اعتماد مردم به پولیس است.

۴- مهربانی همراه با قاطعیت: پیامبر صلی‌الله‌علیه‌وسلم با همه مهربان بود، اما در اجرای احکام خداوند قاطع. پولیس مؤمن باید همین تعادل را حفظ کند.

۵- تعهد و مسئولیت‌پذیری: (صحیح بخاری) پولیس مؤمن نسبت به جامعه،وظیفه‌دار و پاسخ‌گو است.

۶- امر به معروف و نهی از منکر: یکی از رسالت‌های پولیس در جامعه اسلامی، ترویج معروف و جلوگیری از فساد است.

۷- تواضع و رفتار اسلامی با مردم: برتری از آنِ کسی است که با مردم با ادب، فروتنی و انصاف برخورد می‌کند، نه با تحقیر.

نتیجه‌گیری :

پولیس مؤمن کسی است که ایمان، عدالت، اخلاق اسلامی و مسئولیت‌پذیری را با شجاعت و قانون‌مندی ترکیب می‌کند. چنین پولیس نه‌تنها امنیت می‌آورد، بلکه امنیت پایدار، عدالت‌محور و الهی را برای جامعه اسلامی تضمین می‌نماید.

منابع:

۱- قرآن کریم ،
۲- صحیح بخاری،
۳- صحیح مسلم،
۴- جامع ترمذی،
۵- مسند احمد،
۶- و ریاض‌الصالحین.

د میرکافا افسانه او د الیاسین_۱۰۵ نایاب ابتکار!

ذوالکفل ذکي

دا په اوسني عصر کې د نړۍ یو له پرمختللو ټانکونو څخه دی چې په ۱۹۸۷ م کال کې د صهیونیستي اشغالګر رژیم په واک کې ورکړ شو.

تر دې مهاله یې پنځه نسله جوړ کړای شوي او یهود ترې استفاده کوي؛ چې ځینې ځانګړتیاوې یې دادي:

اول: د ۱۲۰ ملي متره میل په درلودلو سربېره د لیزري مرمۍ د فیر کولو وړتیا او ۳٦۰ درجې تر برید لاندې راوستلای شي!

دوهم: میرکافا په پرمختللې ټکنالوژۍ او کمپیوټري سیستم سمبال دی، چې پر ټانک د نصب شوي دوربین په توسط د لیدلو د ساحې خطرات داخل کې د کمپیوټر پر سکرین باندې ښیي!

دریم: میرکافا ۹ متره اوږدوالی، ۳,۷ متره سور او ۲,٦ متره لوړوالی لري!

څلورم: که چیرې له مخالف لوري څخه پر میرکافا لیزري میزایل فیر شي، میرکافا په اتومات ډول دود لرونکی بم پر خپلې شاوخوا استعمالوي تر څو د لیزري میزایل شعاعات ګډوډ او هدف ترې خطا کړي!

پنځم: د عادي مرمۍ پر فیر کولو سربېره د لیزري میزایلو د توغولو قابلیت هم لري، عادي مرمۍ یې له دوه نیم کیلو مترو تر درې کیلو مترو فاصله ویشتلای شي!

شپږم: میرکافا د رادار سیستم په لرلو سره د دښمن د فیر شوي توغندي په اړه خبرداری ورکوي!

الیاسین_۱۰۵

له اوږې څخه ویشتونکی د پوځي وسایطو ضد توغندی د حماس د بنسټګر شیخ احمد یاسین تقبله الله په نوم نومول شوی، د لومړي ځل لپاره د اقصی طوفان عملیاتو پر مهال وکارېده! له ۱۰۰ مترو څخه تر ۵۰۰ مترو فاصله ویشتلای شي، څلورنیم کیلو ګرامه وزن لري، له کوچنیو ډرون طیارو څخه هم پر دښمن را اورول کیږي.

دا مرمۍ دوه برخې لري چې لومړۍ برخه یې د میرکافا ټانک له دیوالونو... ٦مخ



د شاعر او لیکوال سید رقیب شاه کلتوري هڅې

نوري

ننګرهار د شاعرانو او ادیبانو په روزلو کې د هېواد له مهمو ولایتونو څخه شمېرل کېږي. اکثره پښتو ژبي شاعران په دغه ټاټوبي پورې تړاو لري. نور ولایتونه هم شته، چې په کې شاعران او ادیبان روزل شوي او کمال ته رسېدلي دي، خو ننګرهار ځانګړی ارزښت لري. د ادیپوهانو او څېړونکو د څېړنو له مخې الحاج ډیپلوم انجنیر سید رقیب شاه «هاشمي» د میرزا سید غفور شاه «هاشمي» زوی د میرزا سید هاشم «هاشمي «لمسی او د سیداحمدشاه «هاشمي « کړوسی دی. په قوم سادات الهاشمي دی. په منځنۍ عالمه کورنی کې په کال ۱۳۳۷ ل کې د ننګرهار ولایت د کامی ولسوالۍ په ده غازی کلي کې زیږېدلی. پلاریې دینداره دولتي مامور، په اغا ملا مشهور و او له پخوا د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار په لومړۍ ناحیه کې هستوګن و. ده لومړنۍ زده کړې د کور او کلي له دیني عالمانو څخه وکړې. په ۱۳۴۴ ل کال د کامې ولسوالۍ منځنی مکتب چې په هغه وخت کې د کامې د صدی په کلی کې و په لومړني ښوونځي کې شامل شو د اوږدې لارې او د پلار د ماموریت دندی له امله په همدې کال د جلال اباد ښارعبدالوکیل لومړني ښوونځي ته تبدیل او بیا په څلورم ټولګي کې میاعمرلومړنی ښوونځی ته تبدیل شو او په کال ۱۳۵۰ل کې د جلال اباد ښار د میا عمرلومړني ښوونځي څخه یې بری لیک تر لاسه کړ. د کال ۱۳۵۰ ل په سنبلې میاشت کی د یوې ځانګړې کانکور ازمو ینې له لارې د ننګرهار په عالی لیسه کې شامل شو او ۷-۸ ټولګي یې ولوستل. په هغوکلو نو کې د جلال اباد ښار د تجربوي متوسطه ښوونځي فارغینو ته یو امتیاز و،چی له نهم ټولګي فارغینو څخه به اول ، دوهم او دریم نمبرشاګردان په ترتیب دکابل ولایت ثانوی تخنیک، دبلخ ولایت د مزارشریف تخنیکم او د خوست ولایت تخنیکم ته به امتیازي استول کېدل. په دې نیت چې ګوندی یو مسلکي ښوونځي ته لاړ شي. د کال په نیمایي ۱۳۵۲ کې تجربوي مکتب ته تبدیل او هلته په تجربوي مکتب کې اول نمبرفارغ شو. له بده مرغه، چې په دې کال هیڅ یوکس له فارغینو مسلکي ښوونځیوته ونه لیږدول شو. په لسم صنف کې یو وار بیا د ننګرهار په عالی لیسه کې شامل شو ترڅو له دوولسم ټولګي څخه په ۱۳۵۶ کال فارغ التحصیل شو. په ۱۳۵۷ل په حمل میاشت کې د کابل پوهنتون د کرنې په پوهنځي کې شامل او د تحصیل په موده کې ۱۳۵۹/۷/۲۳ ل کال کې د بر حق جهاد پر وخت د رژیم له خوا په پل چرخي محبس کې محبوس شوی و، خو د الله ج په مهربانۍ په کال ۱۳۶۰ ل د سلواغې په میاشت کی له محبسه خوشې شو.

په کال ۱۳۶۸ ل د کابل پوهنتون د کرنې پوهنځي د باغداري څانګه کې شامل او په کال ۱۳۷۰ ل کې فارغ التحصیل شوي دی . د لیکوال چاپ شوي اثار: حوره ۱۳۵۸ ل کال د اطلاعاتو او کلتور وزارت چاپ او نشرکړی دی. لومړی چاپ، ارزش غذایي میوه زیتون و طرق مختلف تکثیر آن ۱۳۶۹ د کرنې او مالدارۍ وزارت چاپ او نشر کړی دی، زیتون (د افغانستان په ختیځو او جنوب ختیځو سیمو کې د ښوونو تولید او ترویج) د کرنې او مالدارۍ وزارت چاپ او نشر کړی دی، ښوون (زیتون) پروسس ۱۳۹۰ مهمند خپرندویه ټولنه، جلال اباد چاپ او نشرکړی دی، روغن نباتی و تولید پنبه دانه ۱۳۹۱ل کال، خیبر خپرندویه اداره کابل میوند جاده ، میوند څلي ته څېرمه د مالوچو کوڅې مخامخ چاپ او نشرکړی دی، د خښاک وړ اوبه ۱۳۹۳ مهمند خپرندویه ټولنه، جلال اباد چاپ او نشر کړی دی، حوره دوهم چاپ ۱۳۹۵د لومړي چاپ د مقالو بیا لیدنه او زیاتوني(نویو مقالو اومطلبونو سره) د چاپ د پروسی لاندی، د ژوند چاپېریال ککړوونکي، مسلکی کتاب همدا کتاب، د اشعارو ټولګه تر اوسه چاپ شوې نه ده، مختلف مسلکی ، سیاسی ، ادبي او کلتوری مضامین په جرایدو، ورځپاڼو او همداسې مرکې په تلویزیونونو او راډیوګانو کې :

د شعر بېلګه یې:

شایسته یې ګلالۍ
د دښتو صحرانۍ
راځه راځه جانانه
پر ماشه مهربانه
دنیا کړه ټول حیرانه
ته لایق د محبت یې
ته مې حوره د جنت یې
شایسته یې ګلالۍ
د دښتو صحرانۍ

قلم و اهمیت آن در زندگی بشر

احمد

نویسندگان، شاعران، محققین و قلم بدستان همواره از یک روز به عنوان روز قلم گرامیداشت به عمل می آورند تا از تاریخ پیدایش قلم، شیوه استفاده آن، قلمرو چیستی قلم، صلابت وعظمت قلم، سخن بگویند.

زیرا قلم زبان دوم انسانها و بیان کننده اندیشه و شخصیت آنهاست و قلمرو چیستی قلم در واقعیت بسیارعمیقتر و گسترده تر از آن است که در بیان آدمی بگنجد، همچنان قلم قوی ترین و بی صدا ترین سلاحی است که جهان را تغییر می دهد.

روی این اساس پیش از پرداختن به تاریخچه قلم، ایجاب می کند که نگاه گذرا به تاریخ نوشتن بیاندازیم؛ در حدود بیست هزار سال پیش از امروز در زمانه های گذشته نوشتن با قلم مطابق به آنچه ما امروز می بینیم، وجود نداشت و افراد از موادی مانند سنگ، چونه، چوب، پوست و برگ درختان، موم و... برای به جا گذاشتن آثاری از خود، استفاده می کردند، همچنان در برخی از حالات با استفاده از ابزار های تیز ونوک دار مانند چاقو و دیگر ابزار، اقدام به کندن کاری هایی به شکل خطوط ، روی سطوح می نمودند تا پیام خود را به دیگران و به نسل های بعدی به میراث بگذارند، اما به مرور زمان این ابزار، جای خود را به قلم پر، قلم نی، قلم موی و... واگذار کرد.

اما در آغاز قرن بیستم، استفاده از قلم و کاغذ های مدرن و امروزی به عنوان مهمترین ابزار ذخیره سازي اطلاعات تبدیل شدند که حتی امروز وبا وجود پیشرفت علم در ذخیره اطلاعات از جمله استفاده از کمپیوتر، فلش، ابزار برقی خاص و... نه تنها از ارزش قلم و صاحبانش ، نکاسته است ،بلکه به دلیل انتقال لحظ ای نوشته ها و ماندگاری آن ها، برخلاف بیان زبانی که به مرور زمان کهنه می شوند، مسئولیت و وظیفه قلم را صد چندان کرده است.

بناءً اهمیت قلم به حدی است که بیش از چهارده صد سال قبل از امروز در قرآن کریم به قلم سوگند یاد شده است.

همچنان بعد از پایان برخی از جنگ ها، پیامبر بزرگوار اسلام حضرت محمد مصطفی(ص) نیز دستور می دادند، اسیرانی که به خواندن و نوشتن بلد اند و به ده مسلمان خواندن ونوشتن را بیاموزند، آزاد اند و این عملکرد پیامبر گرامی اسلام، نشان دهنده، اهمیت بالا وجایگاه با عظمت قلم،علم و نگارش از گذشته الی اکنون در میان مسلمانان است.

بنابرین هرچند قلم کوچک است، اما کاری بزرگی را برای ما انجام می دهد به گونه مثال :

دانش آموزان برای نوشتن و یادداشت برداری از قلم استفاده می کنند، بازرگانان برای یادداشت ها و امضای چک های خود قلم بدست می گیرند، بسیاری و مهمترین پیمان های زندگی و پیمان های صلح و یا جنگ نیز با قلم امضا می گردند که نکته مشترک در همه ی این موارد، ذهن متفکر وقدرت قلم است .

روی این اساس، بهترین فراخوان و تجلیل از روز قلم به باور اهل علم و دانش اینست که تحلیل ها و پژوهش های ما نباید به توضیح و تفسیر حالات کنونی خلاصه شود، بلکه بایسته است که تولید اندیشه ها از جانب نویسندگان و قلم بدستان ما، بیشتر پیرامون گذر از وضعیت نامناسب اقتصادی و ایجاد امید به آینده بهتر متمرکز گردد.

شعر ادب او فرهنګ د هر ملت د معنوي شتمنیو بنسټ جوړوي

فضلي

شعر، ادب او فرهنګ د هر ملت د معنوي شتمنیو بنسټ جوړوي. دا درېواړه عناصر یوازې د تفریح یا ذوقي ښکلا لپاره نه دي، بلکې د ملت د هویت، افکارو، ارزښتونو، احساساتو او سیاسي ټولنیز شعور ښکارندوی دي. افغانستان د شعر، ادب او فرهنګي میراث له پلوه د اسلامي نړۍ له بډایو هېوادونو څخه شمېرل کېږي. زموږ هېواد تل د لویو شاعرانو، فکري لارویانو او فرهنګي نوابغو زانګو پاتې شوی، خو د تاریخ په اوږدو کې، بې‌ثباتۍ، تبلیغاتي یرغلونو او فرهنګي تېروتنو، د دې ارزښتناکو بنسټونو نظم او محتوا ته سخت زیانونه ورسول.

د اسلامي امارت له حاکمیت وروسته، د افغانستان د فرهنګي بهیر د سمون، پالنې او تنظیم لپاره پراخ اقدامات شوي دي. له مهمو نوښتونو څخه یو هم د ((مشاعرو د تنظیم قانون)) توشیح دی، چې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله) له لوري صادر شوی او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر معینیت له خوا یې د پلي کېدو لپاره په تېره اوونۍ کې درې ورځنی ښوونیز سمینار جوړ شوی و.

د اسلامي امارت فرهنګي لیدلوری پر درېو مهمو بنسټونو ولاړ دی. اسلام، افغانیت او د ملت یووالی. شعر او ادب باید د همدې درېوو بنسټونو پر محور وڅرخي، ترڅو وکولای شي له یوې خوا معنوي ارزښتونه وساتي او له بلې خوا د ولس ترمنځ یووالی، بیداري او اعتماد رامنځته کړي. نو همدا موخه وه، چې د مشاعرو د تنظیم قانون معرفي شو، تر څو د شعر، ادب او فرهنګي تولیداتو منځپانګه، چوکاټ، تشکیلات او مکلفیتونه د شرعي اصولو، ملي ګټو او ټولنیزو اړتیاوو له مخې تعریف شي.

په دې وروستیو کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له خوا جوړ شوی درې ورځنی سمینار، چې پکې د یاد وزارت ټولو ولایتي رئیسانو، فرهنګي چارواکو او د ادبي او اسلامي برخو متخصصینو ګډون درلود، د یاد قانون د وضاحت او تطبیق لپاره تاریخي ګام و. دا سمینار، یوازې یوه علمي ناسته نه وه، بلکې د فرهنګي پالیسۍ د تنظیم لپاره یې اساسي لاربسودونه وړاندې کړل.

په دې ناسته کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ملا خیرالله خیرخواه، د فرهنګ معین مولوي عتیق‌الله عزیزي او یو شمېر نورو چارواکو پر دې ټینګار وکړ، چې شعر باید د اسلامي نظام د ملاتړ، د ولسونو د یووالي، د باطل د رد او د معنوي ارزښتونو د تقویې لپاره وکارول شي. دوی شاعرانو ته سپارښتنه وکړه، چې خپل ادبي آثار باید د اسلامي، افغاني او اخلاقي اصولو په رڼا کې تولید کړي.

د مشاعرو د تنظیم قانون، چې په یوه مقدمه، درېوو بابونو، دوو فصلونو او ۱۳ مادو کې ترتیب شوی، لاندې بنسټیزې موخې لري:

- د شعر منځپانګه باید اسلامي او اخلاقي ارزښتونه خوندي کړي.
- ادبي ناستې باید له انارشیزم، افراطیت او بې‌بندوبارۍ خلاصې وي.
- شاعرانو ته تعریف شوي مکلفیتونه ورکړ شوي، ترڅو د قانون د روح مطابق عمل وکړي.
- د مشاعرو تنظیمي چوکاټ او اجازې باید له اصولو سره سم ترسره شي.

دا قانون له هغې انارشۍ او ګډوډۍ څخه د وتلو یوه هڅه ده، چې کلونه وړاندې یې د ادبي بهیر ملا ماته کړې وه. له دې وروسته، هیڅ شاعر یا فرهنګي فعالیت به د دولت له اجازې، اصولو او ارزښتونو پرته ترسره نه‌شي.

د ښوونیز سمینار یوه مهمه برخه، د ولایتي رئیسانو نظرونه، تجربې او وړاندیزونه وو. دغې دوه اړخیزې تبادلې، د مرکز او ولایتونو ترمنځ یو نوی پُل جوړ کړ، چې له مخې به یې د فرهنګي قانون تطبیق چټک، منظم او اغېزمن شي. رئیسانو د خپلو سیمو ستونزې، اړتیاوې او وړاندیزونه شریک کړل، چې د فرهنګي سمون او پرمختګ لپاره به عملي لاربښوونې ترې جوړېږي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر د ادیبانو، شاعرانو، لیکوالانو او نورو فرهنګي فعالانو پر ځای او ارزښت ټینګار وکړ. ده ولایتي رئیسانو ته توصیه وکړه، چې د خپلو ریاستونو دروازې دې د ادب خادمانو ته خلاصې وساتي، هغوی دې تشویق کړي، اسانتیاوې دې ورته برابرې کړي او د هغوی د فعالیتونو لپاره دې قانوني او عملي زمینه برابره کړي.

